مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدربی آماج

۲۰۲۵/۱۰/۰۴

# د جرمني هېواد يووالی او موږ






د۲۰۲۵ کال اکتوبر دریمه د دوو آلمانونو(شرقي اوغربي) د یوځاي کیدلو پنځه دیرشمه کلیزه او په ټول آلمان یاجرمني کې عمومي رخصتي ده او کنسرتونه دی، زیاتره جرمنیان او توریستان د برلین دیوال ځاي ته ورځي او لیدنه یي کوي. داځرنګه ممکن شول؟! ځواب آسانه دی په اتحاد جماهیر شوروي کې نور سېک او ځواک نه وو پاته، دشوروي اتحاد وروستني دیکتاتور ګرباچوف په خلاصه خوله وویل دآلمان دیو ځاي کیدو مخالف ندی. ددې تر شا پټ حقیقت څه دی؟! دافغانستان جګړه داتحادجماهیرشوروی لپاره داسې مځکنۍ ماین ثابت شو چې شوروی وربانډې وختله او په چاودیدو سره یې پنځلس ټوټې شوه او نړۍ یې له شر نه خلاصه شوه. مګر په افغانستان باندی د اتحاد شوروی دا یرغل افغانو ته په کومه بیه تمام شو؟! د اټکلونو پر بنسټ د یو نیم میلیون افغانانو مړینه، پنځه سوه زره معلولین او د اوو سوه زرو په شاوخوا کی کونډی او یتیمان،۶میلیونه کډوال په ګاونډیو هیوادونوکی او تر څنګ یی د ټولو اقتصادی(اټکلی ۱۳ میلیارد ډالر)،فرهنګی او ټولنیز بنسټونو تباه کیدل وو.اخځلیک: Wikipedia – Atrocity crimes in the Soviet–Afghan War

د جرمنی هیواد د دوهمی نړیوالی جګړی په پای کی شپږ میلیونه انسانان له لاسه ورکړی وو او بیا د یوی مودی لپاره د دوهمی نړیوالی جګړی د څلوروبریالیو(اتحاد شوروی،امریکا متحده ایالات، بریتانیا او فرانسی) هیوادونو تر منځ وویشل شوچی وروسته غربی آلمان بیرته متحد او شرقی آلمان بیل هیواد شو.

د اروپا د بیا رغونی په پارد مارشال دپلان په بنسټ غربی آلمان ته د ۱۹۴۹-۱۹۵۲کالونو ترمنځ ۱.۴۵ میلیارده ډالر چی د ۲۰۰۶ کال د اندول له مخی ۱۴.۵ میلیارده ډالر کیږی ورکړل شول. له هغی مهاله تر اوسه پوری د جرمنی هیواد د نړۍ په اقتصادی ډګر کی د ۴.۶۶ تریلیون ډالروجی ډی پی( GDP) او د ۵۶۵۶۰ ډالرسړی سرکلنی عاید(PPP) په لرلو سره دنړۍ څلورم اقتصاد دی. او افغانستان ته د سیګار( د افغانستان د بیا رغونی لپاره عمومی مفتش ) د راپورپه بنسټ له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۲۳ کال پوری د بیارغونی په پار ټولټال ۱۴۶.۸۱ بیلیون ډالر ورکړل شویدی مګر لدی سره بیا هم دافغانستان جی ډي پی (۲۰۲۱ کال کی) ۱۴.۷۹ میلیار ډالره او دسړی سرکلنۍ عاید ۳۶۸ ډالره اټکل شویدۍ پداسی حال کی چی د افغانستان په ګاونډ (ایران او پاکستان ) هیوادونو کی د سړی سرکلنۍ عاید په ترتیب سره ۴۰۹ ۱ او ۱۵۰۵ امریکایی ډالره دی. نن روځ د جرمنی هیواد کی د ټولی نړۍ څخه ۱۳.۳۸ میلیونه پردی وګړی ژوند کوی اولا نور وګړی هم جذب کوی، مګر دلته افغانستان په نړی کی نیږدی لس میلیونه مهاجر او پځانګړي توګه کدرونه او مسلکی خلک هنوزهم څنی تښتي ،اوهیواد ترنن روځي پوري دهماغي جګړي د اور په سپرمیغیو کې سوځی .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

- د جرمنی هیواد د دوهمی نړیوالی جګړی په پای کی په کنډواله بدل شوی وو حتی د کار ځواک یی نه درلود چی له ایټالیا او ورپسی د ترکیی له هیوادونو څخه د میلمه کارګرو پنامه کاری ځواک رابللی وو او خپل هیواد یی آباد کړو. نن که په جرمنی کی په یوه ښاری ترانسپورتی ټرین کی چی۱۰۰ متره اوږدوالی لری سفر کوی نیږدی پنځوس مختلفی ژبی اوریدلی شی او پهمدی توګه پنځوس بیلا بیلو توکومه خلک وینی، مګر هیڅوک یو دبل سره کوم جنجال،کرکه او نفرت نه لری او یو د بل ترڅنګ سره ناست وی.دلته اصل او کم اصله وجود نلری ،کومه ژبه د بیسوادانو او عاقلانو پنامه شتون نلری ،او هیڅوک یهود او اشغالګر ندی او دلته تعصب د قانون په بنسټ جرم دی، د جرمنی د آساسی قانون لومړی ماده داسی ده : د انسان کرامت(عزت النفس) د تعرض یا یرغل نه خوند دی! اوبله ماده یی داسی ده چی د ماشومانو تعلیم جبری دی . او کچیری کوم ماشوم درس ته نه ځی پولیس قانونی صلاحیت لری چی ورشی او هغه ماشوم ښوونځی ته بوزی او ګرویږنه یی وکړی، او بله ځانګړنه یی دا ده چی دوی (جرمنیان) د خپل تیر تاریخ څخه پند اخیستی او د تیر پیراړوند عاقلانه او روڼ قضاوت لری ،د تیرو سیاسیونوغلطی بی له پټولو او یا توجیه څخه لیکلی او وایی یی!کچیری تاسو د دخاو (چیری لومړنی کانسنټریشن کمپ جوړ شوی) سیمی ته د جبری کارونو کمپ چی په جرمنی ژبه کی د کانسنټریشن کمپ پنامه یادیږی ورشی نو د هتلر د وخت د ناسیولیزم یا نیشنلیزم د جبر او تدا بیلګی به ووینی چی په ډیره ښه توګه خوندی شوی او هیڅ لاسوهنه نده پکی شوی ،دوی د خپل تاریخ توری دوری اود هغودورو ناوړه سیاسیون او لوبغاړی پهماغه اصلی کرکټرباندی درپیژنی تر څو چی نور له هغو عبرت واخلی. دلته ولس او حکومت یو پر بل باور لری او سپاربښتنی یی منی . حکومت د ولس مالیه داسی مصرفوی چی د مورد نس څخه نیولی د ګور خاورو ته سپارلوپوری یی حکومت مالی مسولیت پغاړه لری .دغه دی د هیوادونو د بریا رازونه !

- اوس نو راشی زموږ خپل هیواد افغانستان ته !

دلته ولس د حکومت او حکومت اولس ته غل او ورسره په جنګ دی،حاکمان یی خپل جهالت ته د دین او تاریخ جامه چی هم وربادی لویه هم ده او وراغوندی اوبیایی پر ولس باندی په زور قبلوی. بیا اولس پخپلو کی هم سره په جنګ کی دی، دا ځکه چی دلته اصل، کم اصل، مهذب او غیر مهذب مهم دی. ژبنی، سمتی مذهبی اصالت خلکو ته غوره دی، یو دبل ترڅنګ ژوند یی نه خوښیږی بلکه ټول برخه ځانله غواړی. دلته د هر قوم او توکم قاتل او ظالم اتل دی او دبل اتل بیا خاین او د پردیو غلام دی. دلته د هیواد مانا د هر سړی په کور کی خلاصه کیږی ملی او هیوادنی اصطلاح خپل رنګ بایللی دی . نو زموږ دا حال دی چی تر منزله نه رسیږو. نن په جرمنی کی د یوالی روځ په پوره ولولو لمانځل کیږی او ډیری افغانان یی تماشی ته ورځي مګر دا د ساړه جنګ پای ته رسوونکی اتلان د هیچا هم په یاد ندی.دا ځکه چی دوی له حالاتو عبرت او پند وانخیست (جزا دعمل حق ده) او چی بد ګرځی،بد به پرځی!پهمدی خاطر هر ځای خوار او بی قدره دی. نو دلته هغه د پښتو متل ریښتینولی له ورایه څرګندیږی کوم چی وایی: چی نلري سړي، نه دقرت کړي نه غوړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ